**جمهورية مصر العربية** **محرم** 1443**هـ**
**وزارة الأوقاف** **لغة البشتو** 13 **اغسطس** 2021**م**

(1)

**د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هجرت د عبرتونو څخه پلان ګذاری او په توانمندیو باندي باور کول دي**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **«** إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ**»ژباړه:« که تاسي د پیغمبر (ص) مرسته ونکړه، نو هیڅ پروا نشته. الله د هغه مرسته په هغه وخت کښي کړېده چي کله کافرانو هغه ایستلی ؤ، چي کله هغه یوازي د دوو نفرو دوهم ؤ، کله چي هغوی دواړه په سمڅه کښي ول. کله چي هغه خپل ملګري ته وویل: "مه خفه کیږه، الله زموږ سره دی." - په هغه وخت کښي الله له خپل لوري څخه پر هغه باندي د زړه ډاډېنه نازله کړه او په داسي لښکرو سره یې د هغه ملاتړ وکړ چي...»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د پیغمبر صل الله علیه وسلم هجرت چې د مکي مکرمي څخه یی مدیني منوري ته ترسره کړ د بیلابیلو عبرتونو څخه ډک دی دا د اسلام په تاریخ کې د بدلون یوه لویه نقطه وه او د مهمو عبرتونو د جملې څخه چې مناسبه ده هغه بیان کړو د با بنسټه پلان ګذاري او د مبارک سفر لپآره په منظم ډول ترتیب وو چې د نبي کریم صل الله علیه وسلم لخوا رامنځته شوی وو په منظم ډول سره پلان جوړول یوه علمي وسیله ده چې د ننګونو د لمنځه

وړلو لپآره کارولي شو او همدارنګه د کامیابیو د ضرورتونو د جملي څخه یو ضرورت دی او پدغه ټسفر کې په ښکاره ډول سره دغه پلان ګذاری څرګنده شوی ده ځکه چې کله نبي کریم صل الله علیه وسلم د هجرت هوډ وکړ نو دوه سوارلی یی برابری کړی او پیغمبر صل الله علیه وسلم خپل نژدی دوست ابو بکر رضي الله عنه ددغه سفر ملګری غوره کړ همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم شپه ددی لپاره غوره کړ چې د مکې مکرمي څخه مدیني منوري ته ووځي ځکه چې همدا مناسب وخت وو.
همدارنګه په نبوي هجرت پیښنو کې که یو ځوک فکر وکړي نو وبه ګوري پیغمبر صل الله علیه وسلم بیلابیل رولونه او دندي په ډیر دقت او مضبوط ډول سره ویشلي وو ځکه پیغمبر صل الله علیه وسلم علي بن ابي طالب ته امر کړي وو چې د هغه په بستره کې سملي او ټول هغه امانتونه او د هغه صل الله علیه وسلم سره ایښودل شوي شیان خپلو خاوندانو ته وسپاري او دا کار یی ددی لپآره هم ترسره کړ چې مشرکان پدي پوه نشی چې پیغمبر صل الله علیه وسلم وتلي او د وتلو په وخت کې د هغه لاره تعقیب نکړي.
همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم پدغه هجرت کې په پلان ګذاری او په اسبابو نیونه باندی ټینګار شویدی ځکه چې پیغمبر صل الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته پداسی وخت راغي چې هیڅ توقع نکیده چې په هغه وخت کې ځوک ورشي ترڅو داوړه په هجرت باندی ووځي او هغه بیا عبدالله بن ابي بکر رضي الله عنه پدي وګمارلو چې د قریشو حالات دویته ورسوي او ټول هغه فریبونه او پلانونه چې د قریشو له لوری د هجرت د قافلي په مقابل کې نیول کیږي هغوي ته خبر ورکړي نو عبدالله بن ابي بکر رضي الله عنه هم د ورځي د قریشو پلانونه اوریدل او د شپي به پیغمبر صل الله علیه وسلم خواته ورتللو او په غار کي به یی هغوي ته بیانولو او سهار وختي به بیا بیرته مکي مکرمي ته راګرځیدلو.

همدارنګه ابوبکر رضی الله عنه خپل خادم عامر بن فهیره رضي الله عنه پدي ګمارلی وو چې پیغمبر صل الله علیه وسلم ته خواړه ورسوي او د غار ترڅنګ خپله رمه هم وڅروي او د رمي د ګرځولو په وخت کې د ابوبکر رضي الله عنه د خپو د قدمونو اثار لمنځه یوسي همدارنګه دی ترڅنګ اسنا بنت ابي بکر رضی الله عنها هم غارثور ته پیغمبر صل الله علیه وسلم او د هغي ملګري ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ډوډۍ او خواړه رسول.

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

همدارنګه د نبوي هجرت د عبرتونو د جملي څخه بل هم دادي چې پیغمبر صل الله علیه وسلم په توانمندیو باندي باور کول وو ترڅو هغه دندي ترسره کړي چې د هغوي د قدرتونو سره برابر وي همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم او د هغه ملګري ابوبکر رضی الله عنه داسی یو سړۍ غوره کړ چې د مدیني منورې لورې ته لارې ورته وښایی او داسی لاره ورته وښایی چې خلک یی نه کاروي د هغه سړي نوم عبدالله بن عریقد وو او هغه که څه هم مسلمان نه وو خو پیغمبر صل الله علیه وسلم هغه ددی لپاره غوره کړ چې باور یی پرې لرلو چې هغه غوره تجربه لري او همدارنګه د انرژیو څخه یی ګټه پورته کړه نو له همدي لپآره که یو چاسره په فکر او نظر کې اختلاف هم ولري او یا هم په عقایدو کې اختلاف ولري نو بیا هم د هغي د توانمندیو څخه ګټه پورته کړي د ام المومنین ععایشه رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایی چې پیغمبر صل الله علیه وسلم ابوبکر رضي الله عنه داسی سړۍ غوره کړی وو چې

هغه ډېر ارام او همدارنګه امانت لرونکي وو نو هغویداوړو ته لاره وخوده او د غار ثور څخه دري شپې وروسته د سهار پر مهال د عامر بن فهيره سره يو ځاي مدينى منورى لور ته هجرت وکړ نو همدا وو چې لاره ورته نوموړي وخودله.
دا ټول مونږ ته ددی خودنه کوي چې بايد د اسبابو نيونه وکړو او په ښه ډول سره پلان ګذاري وکړو او د ټولو چارو لپاره په توانمنديو باندي باور ولرو په ځانګړي توګه هغه توانمندي چې هغه لوړي وي او دا په هيڅ ډول سره په الله باندي په باور او توکل سره په ټکر کي نه رازي ځکه که چيرته پيغمبر صل الله عليه وسلم هغه وخت کې غوښتلي نو دالله څخه يی که چيرته دعا کړی وه نو د مکي څخه مديني منوري ته يی يو داسی وسيله ليږلي وووچې هيچاته به معلومه نه وه خو پيغمبر صل الله عليه وسلم سره لدي چې پخپل رب باندي په بشپړ ډول سره پوهيدو چې مرسته ورسره کوي او همدارنګه پخپل بريا باندي يی باور درلودو خو بيا هم د اسبابو نيونه يی وکړه او د هر چا لپآره يی پلان رامنځته کړ او له هغه وروسته يی پيلی بيا الله ته وسپارلي او دا په هغه وخت کې څرګنده شوه چې کله پيغمبر صل الله عليه وسلم د بريا ټول اسباب وکارول او بيا يی خپل ملګري ابوبکر صديق رضي الله عنه ته په هغه وخت کې مشرکانو ددوي لاره تعقيب کړه نوبيا يی ورته وفرمايل لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ» ژباړه: "مه خفه کيږه، الله زموږ سره دی." - په هغه وخت کښي الله له خپل لوري څخه پر هغه باندي د زړه ډاډېنه نازله کړه او په داسي لښکرو سره يې د هغه ملاتړ وکړ چې...».
**الله تعالی دی مونږ ته پخپل نبي باندي د اقتداء کولو توفيق راکړي.**